
# آیا ژوند پیل دی؟ که پای دی؟



## ژوند لوړې او ژوړې لري!

عبدالرشید"صمد نجاب"

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا ژوند پیل دی؟ که پای دی؟

ژوند لوړې او ژورې لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرلیک: آیا ژوند پیل دی؟ که پای دی؟ ژوند لوړې او ژورې لري!

لیکنه: عبدالرشید"صمد نجاب"

ترتیبوونکی: ارسلان همت

پښتی ډیزاین: ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند لوړې او ژورې لري!

**ژوند** پیل دی؟ که **پای** دی؟ **ژوند** څه شی دی؟ ***مرګ پای*** دی؟ که ***پیل*** دی؟

کله چې په **ژوند** پوه شو چې مونږ د تل لپاره دلته نه یو . . . . . مونږ ټول بیا مُړو!

هر څه؟؟؟ کوو؛

خو؛ . . . . . بیا . . . . . هیڅ؛؛؛؛؛

انسان له **احساسَ** ډک دی؛

**ژوند** د هغو لپاره ډېر زیات سخت دی؛ . . .

چې **احساس** لري.

ټول انسانان **احساسات** لري.

په **ژوند** کې د پاتې کېدو احساس وژونکی دی؛ . . .

او د تېرېدو. . .

احساس هم همداسې . . . دی!

د **احساساتو وژل** ځان وژنه ده؛

ځان وژنه د **احساساتو وژل** دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوازې** انسانان تل کوښښ کوي تر څو نور انسانان یوازې نه شي، ځکه هغوی **یوازېتوب** او درد یې لیدلی وي.

پدې نړۍ کې د انسانانو لوی درد او رنځ **یوازېتوب** دی.

انسانان . . . **یوازې** . . . دي.

**یوازېتوب** انسان لپاره بد ندی، په **یوازېتوب** کې انسان ځان پیژني؛

دې پوښتنو ته پخپله ځوابونه پیدا کوي:

**چې زه څوک یم؟ ولې ژوند کوم؟ چا لپاره ژوند کوم؟**

**زما موخه په ژوند کې څه ده؟؟؟**

په **انسانانو** کله داسې وخت هم راځي، او پوهیږي چې د **ژوند ټول کار** یې بې **معنا** او عَبث دی، او د ښودلو لپاره بیا هیڅ هم نلري..........؟؟؟!

**دُښمنان** تل **ګټونکي** دي، خو . . . ؛

**مونږ** تل باید پر وړاندې یې **ودریږو** او جګړه وکړو . . . !

**انسانان** دوه لوی **دُښمنان** لري . . . . . ، ، ، «»

**لومړی؛** په "ن" پېلیږي . . . . . په "س" پای ته رسیږي . . . . . !

**دویم؛** په "ش" پیلیږي . . . . . په "ن" ختمیږي . . . . . !

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی یې زمونږ په واک کې دی، دویم یې ل ـ ع ـ ن ـ ت ـ ي ـــــــ دی.

**مونږ** ټول غواړو : ښي (راست) « ــــ لوري ته لاړ شو، خو؛ **دوی** غواړي :
کيڼ (چپ) ــــ » لوري ته مونږ بوځي؛

**مونږ** چې **ښې** خوا ته يو، **دوی** غمګينه دي، په سر خاورې اړوي، ناآرامه دي،
خو؛ چې کله مونږ **کيڼ** خوا ته بوځي، نو **دوی** لاسونه پړکوي، چـــاکي کوي،
خوښ دي، خو؛ مونږ يې کندو ته غورځولي يو.

**لوحې خرابې شوي، رنګونه توی دي، تور رنګ توی دی، خراب شوی!**

**ژیړ رنګ د لمر خاته سره ښـایسـته دی؟**

**هغه هم . . . توی دی؛؛؛**

**په لوحې رنګونه دي، ليکل نشته!**

مونږ ټول په **ژوند** کې **انتخابونه او پرېکړې** کوو،

له سختو شيانو سره بايد **ژوند** وکړو،

هيڅوک مونږ سره مرسته نشي کولای؛ ؛ ؛ :: ::!

**داسې ده؟؟؟**

**ژوند** تل زمونږ په خوښه نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله دردوونکی دی!**

کله غمجن دی!

**کله عذاب دی ؛؛؛؛؛!**

**کله له حېرانتیا ډک دی!**

کله له خوښیو ډک دی!

**کله له نیکمرغېو ډک دی!**

**خندا** او **خوښي** ده!

**هر څه بدلون مومي؟...!**

**ژوند وهل** کوي،

**ښودل** کوي،

**زده کول** کوي؛؛؛؛؛

**ژوند** همداسې **ښوونکی** دی!

دروغجن دي هغه خلک چې وايي:

**"مونږ تل او سل سلنه خوښ او خوشحاله یو."**

بیا هم . . . دروغجن دي هغه خلک چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**"مونږ تل او سل سلنه غمجن او غمګینه یو."**

هر څه په نړۍ کې **دوه اړخیز دي**؛

لکه د یوې سِکې دوه مخونه؟

کله **یوه خوا**، او کله **بله خوا**، ؛؛؛

لکه **ساه اخیستل** او بېرته **ساه اېستل**؟

کله **لمر**، کله **باران** دی . . . . . ؛

دلته **لمر ختل** او **لمر لوېدل** شته دي . . .

دلته د **لِوېدلو** ننګوَنه (**خطر**) او د بېرته **پورته کېدو زړورتیا** شته!؟

**مونږ کله ځان پیدا کوو او کله ځان وُرکوو.**

ډیری **انسانان** غواړي چې مونږ د دوی په **انځور** کې **ژوند** وکړو؛

که د دوی په انځور کې مونږ ژوند وکړ، مونږ خپل **ځان**،

خپل **ځان** بایللی، **ځان** مو له لاسه ورکړی،

نو پخپله مونږ **ځان** وژلی، مونږ خپل **روح** وژلی؟

ژوند **پیل** دی؟ که **پای** دی؟ مرګ **پای** دی؟ که **پیل** دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور دي؟ که پنځه؟ ________________!

**لومړی؛** نړۍ ده د ارواح؛ د **خالق**، **مالک**، **متکبر** او **کبریا** (جل جلاله) سره ژمنه؛

**دویم؛** پدې نړۍ کې تر ټولو مهربان انسان **(مور)** سره ژوند دی؛ دوام = ۹ م سره؛

**دریم؛** یو څو کاله دلته چې ټاکلی وخت لري، دا ژوند دی؛ البته مونږ ته

شپیته، اویا او یا هم اتیا؛ **خو؛ د کائیناتو خالق او مالک** (جل جلاله) **ته یوازې . . .**

**$\frac{1}{2}$ ۱ ثانیه!**

**څلورم؛** په (ب) کې ژوند دی، بیا نو په تمه پاتې کېدل دي، هغې ډېرې **لویې ورځې** ته!

**پنځم؛ لویې ورځې** له پېښېدو وروسته، نو (ح) دی، بیا؛ پیل دی ... **له ټولو سلسلو وروسته په پای کې تل پاتې ژوند دی، هلته هیڅ پای نشته؛ تل پاتې دی، تل پاتې دی، او تل پاتې دی.**

. . .

. . .

. . .

. . .

. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای بس نباشـیم و جهـان خواهـد بود

نه نام زمـــان و نه نشـــان خواهـد بود

زین پیش نبـودیم و نبـود هیچ خـــلل

زین پس چو نباشیم همان خواهد بود

"عمر خیام"

مونږ به نه یو پر دې مځـکه دا نړۍ دا به جهـــان وي

نه به موږ دلته اوسیږو نه به زموږ نوم او نه نښان وي

پخـــوا هم پر دنیا نه وو دغه شـــېې وې دغه ورځې

او چې لاړ سو له دې سرایه دا زمـان دا به مکان وي

"عبدالباري جهاني"

"¯_(ツ)_/¯"

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**